مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۴/۰۵/۰۴

# د وطندوښمنۍ نوې څپه

د «وطندوستۍ»، «ملتپالنې» او «ملي» مفاهیمو د تکفیر د ویجاړوونکي توپان دا نوې رااوتې څپه ډېره خطرناکه ده.

د وطن تر هرې فیزیکي ویجاړېدنې دا ویجاړونه زر ځله ګواښمنه ده. د وطن ودانی به جوړې شي، خو که د ملت په ذهن کې ملي حس او د وطندوستۍ ولوله ووژل شوه، بیا نو د وطن فاتحه لوستې بوله.

دا ورځې شیخانو ناڅاپه د «ملي» مفهوم او «وطندوستۍ» په احساس پسې خوله خلاصه کړې ده، چې تصادفي هم نه ښکاري. داسې ایسي، لکه پاکیستان چې د انګریز په حُکم دنده ورسپارلې وي او ورته ویلې یې وي، چې همدا یې وخت دی، په افغانانو کې د ملتپالنې، وطندوستۍ او ملي روحیې حس ووژنئ.

ملتپال او وطندوست افغانان تکفیر کړئ. شیخان وایي: وطن خو کنارابونه دي، چټل وطن څنګه زموږ مور کېدلای شي؟...»

ښاغلی شیخ!

هو!

همدغه غرونه او همدا کندې زموږ وطن دی، همدا دښتې و وچ ډاګونه، همدا بهاند و مست سیندونه زموږ دویمه مور ده.

زموږ معنوي مور.

شیخ کله!

خبر اوسه، چې د وطن حُب او ملي حس د اسلام په تاریخ کې یو ثابت حقیقت دی. د امویانو او عباسیانو په خلافتونو کې، چې عراقي و شامي عنصر په کې پیاوړی و، له مفتوحه هېوادونو څخه غنیمت شوی ثروت د بغداد په پیاوړتیا لګېده، نه د مکې و مدینې په بلدالامین و عاصمة الاسلام.

د اموي او عباسي خلافت سلاطینو په خپل عربیت فخر کاوه او عثمانیانو په خپل تورکي هویت.
د اندلس په قرطبه کې د اموي پاتې شونیو خپل خلافت د فاطمي هغه په وړاندې اعلان کړ، د غرناطې په کاخ الحمرا کې یې د یوې پیاوړې واکمنۍ بنسټ کېښود، مګر پو هیرې ولې ړنګ شو او څو پېړۍ روسته یې ان کوشنۍ نښې هم راجارو شوې؟

ځکه هلته یې ملي او وطني ریښې نه لرلې، هسپانویانو اندلس هسپانیه نومله او خپله خاوره یې ګڼله. عرب مسلمانانو هلته تر پایه ځانونه کډوال او مېلمانه بلل .

د لاهوري اقبال له خوا په طارق بن زیاد پورې منتسبه دغه وینا هم ناسمه زبات شوه، چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**طارق چو بر کنارهٔ اندلس سفینه سوخت**
**گفتند کار تو به نگاه خرد خطاست**

**دوریم از سواد وطن باز چون رسیم**
**ترک سبب ز روی شریعت کجا رواست**

**خندید و دست خویش بشمشیر برد و گفت**
**هر ملک ملک ماست که ملک خدای ماست**

پوه شه، چې د پان‌اسلامیزم دوو معاصرو مفکرانو سیدجمال الدین و اقبال هم ځانونه «افغاني» و « سیالکوټي - لاهوري» ګڼل .

نوې بشري پوهنه یو اصل دا هم زباتوي، چې په نړۍ کې عقیدوي یووالی له ملي و قومي یووالي سره توپیر لري. جغرافیایي - سیاسي، اقتصادي - فرهنګي پولې د ملي یووالي پربنسټ ټاکل کیږي، نه د عقیدوي هغه .
بل علمي اصل دا وایي، چې ایډیولوژیک نړیوالتوب د وړیو، محرومو او لټو ولسونو غوښتنه ده، نه د بډایو، په خپټه مړو او فعالو هغو.

د خلیج عربان، چې د سرو زرو په ټټیو کې ځانونه تشوي او د نړۍ په ښکلیو ځایونو کې د خپلو عیاشیو لپاره مانۍ و ټاپوګان اخلي هیڅکله نه غواړي له افریقایي، اسیایي او نورو وږیو، بېوزلو او درپه‌درو مسلمانانو سره خپل ثروت وویشي. ان حاضر نه دي، چې د خپلو تیلو له سمندرونو څخه یو ګیلن وړیا ورکړي. په عربو کې د اسلام د نړیوالتوب فکر و احساس مړ دی. عرب د اسلام د پینځمي فریضې (حج) ادایینه هم وړیا نه رالوروي او په دغه نړیوال عبادت کې هم خپلې (ملي!!!) ګټې لومړیتوب ګڼي.

انګریزانو دوه پېړۍ پخوا نیمایي افغانستان په همدې نامه وخوړ، چې ګواکې ملتپالنه و وطندوستي کفر ده، ناروا ده. دا تبلیغ یې د دیوبندي جواسیسو په خوله په هر کلي و بانډې کې لکه زهر وشینده.

دا دی نن د همغه انګریز میراثخور غواړي نیمایي نور افغانستان هم په همدې تبلیغ لاندې کړي .
افغانیزم، ملتپالنه، وطندوستي زموږ روستنی معنوي شتمني ده، که دا مو وبایلله، نور نو خدای‌مه‌کړه افغانستان نشته.

ملته !
هوښیار!
خبردار!

#ویښتیا، روښانتیا او بدلون


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ